مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدخالص ادیب ۲۰۲۲/۰۴/۲۵

پوچک

(لنډه کیسه)

یو په بل پسې موټرونه درېدل، موږ تقریباً پینځم موټر و، لمر پر زرغونه دره ګر مې وړانګې غوړولې، د شنو چیناروونو له څوکو مرغان تښتي و، ماشوم له سړک غوا واړوله، تر لکۍ یې کش کړه، غوا منډه کړې، ده څو لښتې یې نورې ورکړې، مخ یې ترې راوګرځاوه. د طبیعت پر پاکه هوا دې وېرې څپې خورې وې. له چیناروونو یو دم ډزې وشوې، ماشوم د دیوال څنګ ته کېناست، ورو ـ ورو یې ساه اخیسته، د خړ موټر پر سر سرتېرې ژر سر ټیټ کړ، شېبه وروسته د ډزو غږونه غبرګه شول، موږ په موټر کې ځانونه راټول کړل، د هر ډز له اورېدو سره مو د زړه ستنې کږېدې. ټول ښه ډارېدو. په دې هم پوهېدو چې شېبه په شېبه د مرګ غېږ ته ورنږدې کېږو؛ خو یو ته مو نه ویل سباوون په ماشوم کې سترګې ګنډلې وې، کونځې لمن، خړه خولۍ یې په سر وه. ماشوم د موټر خواته ورروان شو، ځمکې ته یې لاس کړ، پوچک یې لمن ته کړل، سباوون یې په اوږه لاس راکېښود کړل یې:

- وینې؟

په ویرو شونډو جمال زیاته کړه:

- پوچک ټولوې؟

ده ځان خبرو ته راجوړ کړ، بیا ډزو زور واخیست، ماشوم منډه کړه، پښه یې بنده شوه، پړ مخې ولوېد، په خاپوړو یې د دیوال بېخ ته ځان ورساوه، جوخت ودرېد، په خاورو ککړه لمن یې له نظره تېره کړه، په موټروان مو غږ وکړ:

- استاده شا ته کړه، زور یې واخیست

په ږیره یې لاس تېر کړ:

- کېنئ چې ازل مو نه وي پوره نه مړه کېږو

جمال خبرو ته خوله راجوړه کړه:

- عجل په دوه ډوله دی مطلق او معلق...

تر هغه یې چې خبره بشپړاوه، بیا ډزې شوې، له موټرونو سواری کېښته شوې، د دیوالونو خواته غلې په کړوپو ملاوو ودرېدل، سباوون ماشوم ته ورنږدې شو، هغه د پوچکو په شمېرلو بوخت و، جمال سترګې په کې خښې کړې، په خوبولو منګلو کې راپورته کړ، د خیال په مزو یې وتاړه، لاس تر زنې یې ښه ژوره ننداره وکړه، سباوون ورو ورته کړل:

- څه ولاړ شه څه کوې

ماشوم پزه کش کړه، ګردجن لوستونې یې په پزه تېر کړ، په لمانده لوستونې یې نظر ولګېد، شاته یې ونیوه، په شرمندونکې او غوسناک اواز یې وویل:

- نې تولې ټولم

جمال جیب ته لاس کړ، د موبایل په سکرین یې ګوته کش کړه، له ماشوم څخه یې ویډیو پیل کړه، سباوون ته یې اشاره وکړه چې پوښتنې ترې پیل کړې؛ خو ماشوم پوه شو، جمال ته یې شا کړه له ځانه سره په کنځلو بوخت شو، سباوون په خندنې لهجه بیا ترې پوښتنه وکړه:

- اې خیرنې ولاړ شه پلار به دې راشي بیا د وهې ګوره

ده ژر ورغبرګه کړه:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- هغه تېر کال په جنګ کې شید شو

د جمال په زړه خواخوږی ځپې وغوړېدې، ورو یې زیاته کړه:

- ولې هغه سره پوچک نه ټولوې

جمال موبایل بېرته جیب ته کړ، ماشوم بیا ځان خبرو ته راجوړ کړ:

- هغه ارزانه دي

سباوون بیا ترې سوال وکړ:

- خئ دا ژیړ څه کوې

ماشوم شاوخوا وکتل، پوچک یې په پلاستکي خلطه کې واچول پورته شو په رفتار کې یې کړل:

- دا ژر پوچک کیمته دي اغه نور غریبي نه جوړه وي

خړ ټانګ بیا ډزې پیل کړې، ماشوم په ګرمو پوچ منګولې خښې کړې، ژر ژر یې کڅوړې ته اچول، غوا په کلي کې تر کورنو پنا شوې وه.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ